امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات




# هفته نامه مدیریت حوادث


۵ الی ۱۰ میزان ۱۴۰۴

شماره یکصدو بیست و چهارم


## د پېښو چارو د همغږۍ معین د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه څارنه وکړه او د دې ولایت له والي سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، د یو تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفر په دوام، د لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکنډی، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاری بهیر له څارنې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۹ نېټه غزنی ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د دې ولایت له والی، محترم الحاج ملا عبدالصمد جاوید سره د غزنی ولایت له پېښو د مبارزې...

ادامه در صفحه۲

## د ماین پاکۍ چارو د انسجام او همغږۍ ریاست په افغانستان کې د ماین پاکۍ موسسو د ټیم لیډرانو او د عملیاتی مسؤلینو په ګډون بېړنیو پېښو ته د ځواب وینې د مسؤولیتونو په اړه یو ورځنی ورکشاپ ترسره کړ



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست په همغږۍ، بېړنیو پېښو ته د ځواب وینې د مسؤلیتونو په اړه یو ورځنی ورکشاپ، په افغانستان کې د ماین پاکۍ موسسو د ټیم لیډرانو...

ادامه در صفحه ۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې پلاوی د افغانستان لپاره د قزاقستان له سفیر سره د تورغنډۍ په بندر کې وکتل



د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس, مولوی محمد موسی اشعری او د دې ادارې د بهرنیو اړیکو آمر برهان‌الدین شینواری، د تورغنډۍ په بندر کې د قزاقستان هېواد د خوراکی او غیر خوراکی مرستو د ترلاسه...

ادامه در صفحه ۳

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی برای ۲,۱۸۳ خانوادۀ آسیب‌پذیر کمک نقدی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که میان ادارۀ ملی مبارزه با حوادث و کمیته ناروی برای افغانستان (NAC) به امضا رسیده است، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث دایکندی با همکاری دفتر...

ادامه در صفحه ۴


@afghanistanndma
Afghanistanndma
andma.gov.af
0202104926

# د پېښو چارو د همغږۍ معین د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه څارنه وکړه او د دې ولایت له والي سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، د یو تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفر په دوام، د لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکنډي، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاری بهیر له څارنې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۹ نېټه غزنی ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د دې ولایت له والی، محترم الحاج ملا عبدالصمد جاوید سره د غزنی ولایت له پېښو د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوی حمدالله بشیر او ورسره مل پلاوی په شتون کې وکتل. دغه ناسته د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

په دې ناسته کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د نورو ولایتونو د سفرونو یادونه وکړه او د سفر موخه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د عمومی وضعیت څېړل، د اسلامی امارت د عالی مقام مشرتابه د فرمانونو، احکامو او مکتوبونو د پلی کېدو څارنه، د مالی او اداری چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د پلی کېدو څارنه، د وقایوی پروژو ارزونه، د بشردوستانه مرستو د وېش تعقیبول، د ماین پاکۍ، د نشراتی چارو او همدارنګه د موجودو ستونزو او وړاندیزونو اورېدنه یاده کړه.

هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره ژمنه ده چې د خپلو قانونی صلاحیتونو او دندو په چوکاټ کې به د وقایوی پروژو د پلې کېدو، د زیانمنو بېړنیو اړتیاوو د پوره کولو او د طبیعی پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والی په برخه کې هر اړخیزه همکاری وکړي.

وروسته د غزنی محترم والی صاحب، د زیانمنو په برخه کې د یادې اداري له هڅو او رسېدنې څخه د قدردانۍ ترڅنګ د دې ولایت زیانمنېدو ته په اشارې سره وویل چې د غزنی خلک د طبیعی پېښو له امله په لوړه کچه زیانمن دي او د بشردوستانه مرستو او وقایوی پروژو ته اړتیا لري.

ورپسې، یاد پلاوی د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د دې ریاست د چارو بهیر یې له نږدې وڅېړه. د لیدنې پر مهال، د پېښو چارو د همغږۍ معین له کارکوونکو سره خبرې وکړې، د دوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل، او د اسنادو او فعالیتونو د ارزونې ترڅنګ یې کارکوونکی د دندو د لایحې پر بنسټ د چټکو، پر وخت او اغېزمنو خدماتو وړاندې کولو ته وهڅول.

همدارنګه، محترم معین صاحب د مل پلاوی او د غزنی ولایت له پېښو د مبارزې د آمادګۍ له رئیس سره یو ځای د یو میلیون افغانیو په ارزښت له وقایوی پروژې څخه چې تازه یې د جوړولو چارې پیل شوی، لېدنه وکړه او اړینې لارښوونې یې مسؤلینو ته وسپارلې.

د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوی په دغه ریاست کې خپل څارنیز او د لارښوونېد دې ولایت له والی بهیر پیل کړ.

## د ماین پاکۍ چارو د انسجام او همغږۍ ریاست په افغانستان کې د ماین پاکۍ موسسو د ټیم لیډرانو او د عملیاتي مسؤلینو په ګډون بېړنیو پېښو ته د ځواب وینې د مسؤلیتونو په اړه یو ورځنی ورکشاپ ترسره کړ



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست په همغږۍ، بېړنیو پېښو ته د ځواب وینې د مسؤلیتونو په اړه یو ورځنی ورکشاپ، په افغانستان کې د ماین پاکۍ موسسو د ټیم لیډرانو، د عملیاتو مسؤلینو، د ماین پاکۍ د پروګرام تخنیکی دفتر، بېړنیو پېښو ته د ځواب وینې د ټیمونو مسؤلینو، د یاد ریاست د رئیس او لوړپوړو مدیرانو په ګډون د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۹ نېټه د ماین پاکۍ د پروګرام د غونډو په تالار کې ترسره شو.

ورکشاپ د قرآن کریم د مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

د پروګرام په پیل کې د ماین پاکۍ چارو د انسجام او همغږۍ رئیس، محترم قاری نورالدین رستم‌خېل، ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د پروګرام پر اهمیت خبرې وکړې او د موسسو له مسؤلینو او کارکوونکو څخه یې مننه وکړه چې د پروګرام د لا ښه والی او د چارو د همغږۍ په موخه یې په دې پروګرام کې فعال ګډون وکړ.

ورپسې، د پروګرام ګډونوالو بېړنیو پېښو ته د ځواب وینې ټیمونو د ټیم لیډرانو د دندو، د ټیم لیډرانو د ظرفیت لوړولو اړوند اقداماتو، بېړنیو پېښو ته د ځواب وینې ټیمونو د ورځنی، اوونیزو او میاشتنیو پلانونو د ترتیب او پلی کېدو او په ۲۴ ساعته ډول بېړنیو پېښو ته د ځواب وینې، د راپورونو د تنظیم او د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست ته وړاندې کولو په تفصیلی بحث او د نظرونو تبادله وکړه.

ورکشاپ د ماین پاکۍ د پروګرام د اړوندو ادارو، لوړپوړو مسؤلینو، ټیم لیډرانو، تخنیکی دفتر او د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست ترمنځ د همکارۍ په فضا کې پای ته ورسېد.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې پلاوی د افغانستان لپاره د قزاقستان له سفیر سره د تورغنډۍ په بندر کې وکتل



د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوی محمد موسی اشعری او د دې ادارې د بهرنیو اړیکو آمر برهان‌الدین شینواری، د تورغنډۍ په بندر کې د قزاقستان هېواد د خوراکی او غیر خوراکی مرستو د ترلاسه کولو په څنډه کې د افغانستان لپاره د قزاقستان هېواد له سفیر ښاغلی ګازیس اکباسوف د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۴ نېټه سره وکتل.

په دې لیدنه کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې پلاوی, د دې ادارې د لوی رئیس, محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د قدردانۍ پیغام له سفیر سره شریک کړ او د قزاقستان مرستې یې مهمې، اغېزمنې او پر وخت وبللې, چې دا مرستې د دواړو هېوادونو د دوستانه اړیکو ښکارندویې کوي.

ورته مهال, د افغانستان لپاره د قزاقستان سفیر د دواړو هېوادونو اړیکې دوستانه وبللې او د افغانستان له خلکو سره یې د مرستو پر دوام ټینګار وکړ. هغه څرګنده کړه چې دا مرستې د ماشومانو، مشرانو او ټولو اړمنو افغانانو لپاره دی.

په پای کې دواړو لوریو د دوه اړخیزه همکاریو پر دوام او د متقابلو اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی برای ۲،۱۸۳ خانوادهٔ آسیب‌پذیر کمک نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که میان ادارهٔ ملی مبارزه با حوادث و کمیته ناروی برای افغانستان (NAC) به امضا رسیده است، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث دایکندی با همکاری دفتر متذکره، در ولسوالی‌های سنگتخت، خدیر و شهرستان آن ولایت به ۲،۱۸۳ خانوادهٔ آسیب‌پذیر، پس از انجام سروی، بتاریخ ۴ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق مرحلهٔ چهارم کمک های نقدی را توزیع کرد.

در این روند و در حضور مسئولین، برای هر خانواده در هر مرحله ۴۲.۵ دالر معادل آن به افغانی ۲۱۸۳ افغانی توزیع گردیده که در مجموع مبلغ ۲۵۵،۱۹۲،۷۰ افغانی برای این خانواده ها توزیع شده است.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۰۰ مستحقو او اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیر خوراکي توکي ووېشل




د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د مزار شریف ښار په بېلابېلو ناحیو کې ۵۰۰ مستحقو، اړمنو او همدارنګه یوې کورنۍ ته، چې کور یې د اورلګېدنې له امله زیانمن شوی وو، د پلاوي په شتون کې، چې د بلخ ولایت د مقام او د کلیو د پراختیا او بیا رغونې مسؤلینو څخه جوړ شوی وو، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۴ نېټه خوراکي او غیر خوراکي توکي ووېشل

په دې لړۍ کې، په مجموعي ډول سره ۵۹۵ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۲۷۷ کارتنه آش مګۍ، ۲۷۷ کارتنه بیسکویټ، ۱۳۸۵ کیلو بوره او د اورلګېدنې له امله زیانمنې شوې کورنۍ ته سربېره پر یادو مرستو ۳ کړۍ سطلونه او ۶ تختې کمپلې هم ووېشل شوې.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۲۹ ټپیانو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

د لغمان ولایت له پېښو سره مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت د محترم مقام او د کلیو د پراختیاو او بیا رغونې ریاست د مسؤلینو په شتون کې، د طبیعي پېښو له امله د ۲۹ ټپیانو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۴ نېټه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، د هر ټپي شوی کس کورنۍ ته، ۱۰،۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره (۲۹۰،۰۰۰) دوه لکه او نوی زره افغانۍ ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې له یادو کورنیو سره له وړاندې څخه هم د نغدی پیسو مرستې ترسره شوې دي.



## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۱ کورنیو ته د سرپناه د ترمیم او جوړولو په موخه نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د دارت موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د دې ولایت په دولت آباد ولسوالۍ کې ۱۲۱ کورنیو ته د هغوی د سرپناه د ترمیم او جوړولو لپاره، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۴ نېټه د لومړی پړاو په توګه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې ۲۴ کورنیو هرې یوې ته د درې اوطاقونو د جوړولو لپاره ۷۱،۶۲۰ افغانۍ ، ۲۴ نور کونیو هرې یوې کورنۍ ته د دوو اطاقونو د جوړولو په موخه ۵۴،۲۳۰ افغانۍ، ۳۷ کورنیو هرې یوې ته د اساسی ترمیم لپاره ۲۲،۳۴۰ افغانۍ او ۳۶ کورنیو هرې کورنۍ ته د جزئی ترمیم لپاره ۱۳،۴۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره (۱۶۱،۵۹۰) یو سل او یو شپېته زره او پنځه سووه او نوی افغانۍ ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو تر لاسه کوونکو کورنیو د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ له رئیس؛ محترم الحاج مولوی اسد الله وقاص څخه د یادو مرستو په لړۍ کې د شفافیت په موخه د شتون له کبله خوښی څرګنده کړه او د امارت اسلامی له حکمت څخه د نورو مرستو غوښتونکې شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار برای ۵۶۲ خانواده کمک نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که میان ادارهٔ ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسهٔ کورډ اید به امضا رسیده است، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار با همکاری این مؤسسه، در ولسوالی ینگی‌قلعه آن ولایت در قریه‌های عمرخیل، زردکمر، مرکز شهر، توفی قشلاق، کلفگانیو و جرباشی، برای ۵۶۲ خانوادهٔ آسیب‌دیده از حوادث طبیعی و خشک‌سالی و خانواده‌های بی‌سرپرست، پس از انجام سروی، بتاریخ ۴ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق در مرحلهٔ سوم و چهارم کمک‌های نقدی توزیع کرد.

در این روند و در حضور مسئولین، برای هر خانواده ۸۵ دالر برابر با ۵،۷۴۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع برای تمام خانواده های متذکره مبلغ (۳،۲۲۵،۸۸۰) سه میلیون و دو صد و بیست و پنج هزار و هشت صد و هشتاد افغانی تخصیص داده شده بود.

## د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۰۰ کډوالو کورنیو ته د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې



د ا.ا.ا د ریاست الوزراء د محترم عالي مقام د لارښوونې له مخې، د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالو چارو ریاست په همکارۍ، له ایران هېواد څخه راستنو شویو ۵۰۰ کډوالو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۵ نېټه د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، یاد شمیر کورنیو ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰۰۰ بورۍ وریجې او ۵۰۰ د جامو کیټونه ووېشل شول.

## کار ساخت یک دیوار استنادی در ولایت فراه تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شد

بر بنیاد حکم امیرالمؤمنین حفظه‌الله، به‌منظور کاهش خطرات حوادث طبیعی در هر ولایت، برای تطبیق یک پروژه کوچک وقایوی اضطراری بودجه‌ای به ارزش یک میلیون (۱,۰۰۰,۰۰۰) افغانی منظور گردیده است. این پروژه‌های وقایوی از سوی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تمویل و تطبیق می‌گردند.

در همین راستا، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه، در ناحیه ششم مرکز شهر فراه در نزدیکی میدان هوایی، به هزینه نزدیک به یک میلیون افغانی، کار ساخت یک دیوار استنادی به طول ۱۱۸ متر و ارتفاع ۳ متر را بتاریخ ۵ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق تکمیل و به بهره برداری سپرد. در جریان تطبیق این پروژه، زمینه کار برای ده‌ها تن فراهم شده و با تطبیق آن باشندگان محل از خطرات و خسارات سیلاب‌ها در امان ماندند.

همزمان باشندگان محل این پروژه را در راستای حفاظت از جان و مال مردم مؤثر دانسته و از مسئولان مربوطه قدردانی و سپاسگزاری نمودند.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۶۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ځوانانو موسسې (AYSO) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په جوند ولسوالۍ کې د وچکالۍ له امله ۳۶۵ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۵ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو اوړه، ۴.۵ لیتره غوړي، ۲ بستې مالګه او ۴ کیلو دال ووېشل شول.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په فراه ښار کې د ۶ کیلومتره کانالونو د پاکولو چارې پیل کړې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د لوی رئیس, محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د لارښوونې پر بنسټ، د سېلابونو د خطرونو او زیانونو د مخنیوی په موخه د فراه ښار د ۶ کیلومتره په اوږدوالی د شمالی او سویلی کانالونو د پاکولو چارې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۵ نېټه پیل کړې.

د دې پروژې د پرانېستې په مراسمو کې د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس, محترم الحاج مولوی محمد اسرائیل سیار, د ولایت مقام استازی, حافظ مولوی عبدالمالک، د ولایت د استخباراتو ریاست استازی, حافظ میر احمد تنعیم، د ښاروالۍ استازی, انجنیر حامد او د سیمې ګڼ شمېر سپینږیرو ګډون کړی و.

یاده پروژه د ولایتی بیارغونې کمېټې د ماشینرۍ په همکارۍ او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پنځه سوه زره (۵۰۰,۰۰۰) افغانیو په بودجه ترسره کېږي.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې




د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت اړوند هغو ۱۲۰ کورنیو ته چې د طبیعی او غیر طبیعی پېښو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۵ نېټه خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲ بورۍ ۵۰ کیلویی غنم، ۱ عدد شل لیتره د اوبو سطل، ۱ عدد لس لیتره د اوبو بوشکه، ۴۰ پاکټه د کلورین ټابلیټ او ۲ جلد د حفظ الصحی بروشر وویشل شول.

د مرستو د وېش پر مهال، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوی فیض الله جلالی د طبیعی او غیر طبیعی پېښو له امله د زیانمنو کورنیو سره خپله خواخوږی وښوده او زیانمنو کورنیو ته یې ډاډ ورکړ چې د افغانستان اسلامی امارت تل هڅه کوی چې ستاسو ستونزو ته رسېدنه وکړی او په راتلونکې کې به هم د نورو مرسته زمینه برابره کړی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نورستان برای ۶۷۶ خانواده نیازمند کمک‌های غذایی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه HDDO، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نورستان با حمایت این مؤسسه، در ولسوالی واما پس از انجام سروی بتاریخ ۵ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۶۷۶ خانواده مستحق و نیازمند کمک‌های غذایی توزیع نمود.

در جریان این روند، برای هر خانواده ۱۰۰ کیلو آرد، ۸ لیتر روغن، ۸ کیلو دال و ۲ بسته نمک توزیع گردید.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲،۷۸۵ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ مالي اداري او د ماهو مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په همغږۍ او د WFP مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په سنچارک ولسوالۍ کې ۲،۷۸۵ زیانمنو شویو مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۵ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲،۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره اته میلیونه او شپږ اویا زره او پنځه سوه (۸،۰۷۶،۵۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۸۰ سېلاب ځپلو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په جبل السراج او شینواري ولسوالیو کې د تېرو سېلابونو له امله ۵۸۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۶ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو غنم، یو روغتیایی کېټ او د اوبو یوه بوشکه ووېشل شوه.

## کشف و خنثی‌سازی چندین فیر مهمات منفجر ناشده در ولایت کندز




بر اساس تفاهم‌نامه میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ماین‌پاکی OMAR، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز توسط تیم‌های پاسخ‌دهی سریع این مؤسسه، مواد منفجرناشده را در ولسوالی قلعه‌ذال آن ولایت بتاریخ ۶ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کشف و به‌گونه مصون خنثی نمود.

در نتیجه این عملیات، ۵۳ فیر مرمی هاوان، ۱ فیر مرمی توپ دِیسی، ۲ فیر مرمی دافع‌هوا، ۳ فیر مرمی بیم‌یک و ۱ فیر مرمی توپ ۸۲ کشف و خنثی گردید که با این اقدام، مصونیت جانی و مالی باشندگان محل تضمین شد.

شایان ذکر است که این عملیات مطابق طرزالعمل‌های اصولی و در حضور مسؤولین مربوطه انجام گرفت.

## د سمنگان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وچکالۍ له امله ۲,۳۸۳ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ASIO موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویلوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د دې ولایت د دره صوف پایین ولسوالۍ په بېلابېلو کلیو کې د وچکالۍ له امله ۲,۳۸۳ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۸ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲,۹۰۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال شپږ میلیونه او نه سوه لس زره او اووه سوه (۶,۹۱۰,۷۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۱۲ معلولینو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د معلولینو او معیوبینو ۱۲ کورنیو ته چې سروې یې وړاندې ترسره شوې وه، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۸ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته، د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس او د مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو غنم او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان برای ۲۴۰ خانواده عودت کننده اجباری کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان، پس از انجام سروی، بتاریخ ۹ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۲۴۰ خانواده عودت‌کننده اجباری مربوط به کمپ سرخکان در ولسوالی قرغیو آن ولایت، کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.
در این روند، در حضور مسئولین، به هر خانواده ۴۰ کیلو آرد و یک فرش پلاستیکی توزیع گردید.
در پایان، خانواده‌های مستفیدشده از دریافت این کمک‌ها ابراز خوشحالی نموده و از مسئولین به‌خاطر ارائه هرگونه کمک سپاسگزاری کردند.

## په مزار شریف ښار کې د اور لګېدنې د مخنیوی کمېټې یو ګډ پلاوی د تېلو له ټانکونو څخه څارنه وکړه





د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د محترم مقام د لارښوونې او د بلخ ولایت د محترم مقام د حکم پر بنسټ، د ښاروالۍ، اطفایې، مستوفیت، د کور او ښار جوړونې، استخباراتو، سوداګریزو خونو، د سوداګرۍ او کانونو، د تېلو او ګازو او د دې ریاست له استازو څخه جوړ شوی ګډ پلاوی د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۹ نېټه په مزار شریف ښار کې د ممتاز تېلو ټانک، د داودزی تېلو ټانک ایل نمبر ۲، د بریالی برې د تېلو او تاسیساتو ټانک، باختر وطن پټرولیم او د داودزی پټرولیم د تېلو ټانک څخه د اورلګېدنې د مخنیوی له وقایوی وسایلو څخه د سروې اوڅارنې په موخه لیدنه وکړه.

د سروې د ټیم د موندنو له مخې، د تېلو دا پمپ سټېشنونه په لومړنیو وسایلو سمبال وو، خو د باختر وطن پټرولیم چې د مزار شریف ښار د ځمکنی ټرانسپورټ د عمومی ټرمینل ته څېرمه په یو حساس ځاس کې موقعیت لری او د اورلګېدنې د مخنیوی لپاره هېڅ ډول وقایوی وسایل نلری او د یاد پمپ سټېشن د تېلو زېرمې ته نږدې یو رستورانت هم فعالیت کوی، چې د سروې د ټیم له لوری د دې نیمګړتیاوو او د خطر رفع کولو په موخه د یادو پمپ سټېشنونو مسؤلینو ته لازمې لارښوونې وشوې او د دواړو خواوو په موافقې سره د ستونزو د له منځه وړلو په موخه ځانګړې وخت وټاکل شو.

د دې تاسیساتو مسؤلینو هم ژمنه وکړه، چې تر ټاکل شوی وخت پورې به موجوده نیمګړتیاوې سمې کړی ترڅو په راتلونکې څارنه کې د معیارونو له بشپړ پلی کېدو څخه ډاډ تر لاسه شی.

## د پکتیا ولایت په مرکز ګردیز ښار کې د هاوان یوه مرمۍ په خوندی ډول له منځه یووړل شوه




د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې، د AREA ماین پاکۍ موسسې د چټک غبرګون ۷ نمبر ټیم د پکتیا ولایت د مرکز ګردیز په ملا قدرت دره کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۹ نېټه د هاوان یوه ۸۲ میلی متره مرمۍ کشف او په خوندی ډول له منځه یووړه.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو وویل، چې د خلکو د ځان او مال خوندی ساتلو په موخه د ولایت په کچه د ماینونو او ناچاوده توکو د کشف او له منځه وړلو بهیر په چټکۍ سره روان دی او همدارنګه له خلکو یې وغوښتل چې د هر ډول ناچاوده توکو د لیدو په صورت کې له یاد ریاست سره د اړینو اقداماتو ترسره کولو لپاره ژر تر ژره اړیکه ونیسی.

# پیام آگاهی عامه :

## اقدامات در زمان وقوع زلزله :

اگر هنگام وقوع زلزله در خانه هستید، میتوانید جان خود و فامیلتان را با داشتن آگاهی در مورد پناه گرفتن و انجام عکس العمل سریع و مناسب نجات دهید.

**بهترین اقدام پناهگیری است. بنابراین لازم است که نکات ذیل را مد نظر داشته باشید:**

**۱.** برای اینکه زلزله شما را زمین نزند، روی زانوهای خود بنشینید.

**۲.** برای آنکه خودتان را در برابر اشیای معلق در فضای منزل، محافظت کنید؛ با بازوان خود، سر و گردنتان را بپوشانید.

**۳.** از پنجره ها و کمدهای بلند که بدون مهار هستند و همچنین اشیایی که ممکن است بر روی شما سقوط کنند دور شوید.

**۴.** در زیر میز و یا تخت خواب پناه بگیرید و چنانچه در اثر زلزله حرکت کردند پایه های آنها را با دستانتان محکم بگیرید.

**۵.** همان جا که پناه گرفته‌اید، بمانید تا لرزه‌ها تمام شود. به هیچ وجه جا به جا نشوید.

**۶.** اگر هنگام وقوع زلزله، در جای خواب هستید، همان جا بمانید و بالش را روی سر خود قرار دهید . اما اگر جای خواب زیر اشیائی مانند پنکه قرار دارد، فوراً جا به جا شوید و به نزدیکترین محل امن پناه ببرید.

**۷.** از پله ها یا آسانسور استفاده نکنید.

**۸.** اگر محل ایمن وجود ندارد به کنار دیوار رفته و در حالی که نشسته اید سر خود را بر روی زانوهایتان خم نموده و ضمن اینکه با کف دستهایتان پشت سر خود را گرفته اید با بازوانتان سر خود را محافظت کنید.

**۹.** اگر در داخل موتر در حال حرکت هستید:هر چه سریع‌تر در مکانی امن توقف کنید (از توقف در مجاورت ساختمان‌ها، درختان، پل‌ها و پایه‌های برق، تلفن و مانند آن خودداری کنید). بعد از توقف، در داخل موتر بمانید. زمانی که زلزله ختم شد، با احتیاط به راه خود ادامه دهید، اما از پل‌ها و جاده‌های آسیب‌دیده دوری کنید.